د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

چهارشنبه ۱۲ رمضان ۱۴۳۸هـ | ۰۷-۰٦-۲۰۱۷م | ګڼه: ح.ت.افغ ۱۴۳۸/۰٦

مطبوعاتي اعلاميه

# کابل پروسه؛ د سولې د ناکام بهير ادامه ده

کابل له څو ورځو پرلپسې درنو چاودنو او ولسي لاريونونو وروسته، د جون پر ٦مه د «کابل پروسې» تر نامه لاندې د سولې د نړيوالې غونډې شاهد و. په دغه ناسته کې د ملګرو ملتونو، اروپايي اتحاديې او ناټو سازمانونو په ګډون ۲۳ هېوادونو برخه درلوده، چې پرته له کومې ځانګړې لاسته راوړنې پای ته ورسېده.

**حزب التحرير-ولايه افغانستان**، د «کابل پروسې» ناسته، د سولې په اړه د مسکو د هځو پر وړاندې امريکايي ابتکار ګڼي او د شاوخوا تېرو ۴۰ بېلابېلو غونډو او کنفرانسونو په توګه يې يوه بله ناکامه او د عامه افکارو لپاره غولوونکې هڅه بولي. ځکه په افغانستان کې د جګړې اصلي لامل، په سيمه کې د امريکا او ناټو اوږدمهالې ستراتيژيکې استعماري موخې دي، چې تر اوسه په افغانستان کې د سولې پر ځای د جګړې له لارې تعقيب ته اړتيا لري. له همدې امله امريکا او ناټو له افغانستان څخه په سيمه کې د خپلې جګړه ييزې پروژې په توګه کار اخلي. نو که طالبان هم سولې ته غاړه کېږدي، د حزب اسلامي په څېر به د جګړې په درولو کې کوم ځانګړی اغيز ونه لري، ځکه د جګړه ييز بديل په توګه يې داعش مخکې له مخکې رامنځ ته کړی، چې لاتراوسه د سولې په روان بهير کې له هغه سره د جوړجاړي تشه يادونه هم نه کيږي.

نو د افغانستان مسلمان او مجاهد ولس بايد د زړه له تله دا درک کړي چې امريکا، ناټو او د هغوی ګوډاګی حکومت د سولې د دا ډول پروسو تر نامه لاندې خلکو ته دروغجنې هيلې زيږوي. حال دا چې د جګړې د شدت له لارې غواړي؛ لومړی وسله وال مخالفين د خپلو ګټو لپاره وکاروي، وروسته يې وسله اېښودلو ته مجبور او له نړيوالو وسله والو ډلو څخه رابېل او په پای کې د امريکا په لاس جوړ شوی سيکولر اساسي قانون ورباندې تحميل کړي. که څوک دغه درې امريکايي شرايط ونه مني، نو هغه د امريکايي ګټو د تهديد لامل ګڼل کيږي، چې بالآخره به د «تروريست» تر نامه لاندې وژل کيږي.

**د حزب التحرير-ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**

د حزب التحرير ولايه افغانستان رسمي ويبپاڼه
www.hizb-afghanistan.org
ايمېل پته
info@hizb-afghanistan.org

د حزب التحرير رسمي ويبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.org
د حزب التحرير د مرکزي مطبوعاتي دفتر ويبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.info